Pashto | پښتو

# په ۷ ټولګي کې د ۲۰۲۷ کال لپاره شاملېدل



زده کوونکي په ویکټوریا ایالت کې هغه مهال ثانوي ښوونځي پیلوي کله چې ۷ ټولګي ته ورسیږي.

## زه کله غوښتنلیک ورکولای شم؟

د ۲۰۲۷ لپاره د ویکټوریا په دولتي ثانوي ښوونځي کې د نوم لیکنې غوښتنلیکونه:

- **د دوشنبې ورځ په ۲۰ د اپریل کال ۲۰۲۶** پرانیستل کیږي
- **د جمعې ورځ په ۸ د اپریل کال ۲۰۲۶** پورې وسپارل شي.

## زما د ماشوم د نوم لیکنې حقونه څه دي؟

د *زده کړې او روزنې د اصلاحاتو ۲۰۲۶ قانون* پر اساس په ویکټوریا کې، ستا ماشوم دا حق لري تر څو د خپلې سیمې په سیمه ییز ښوونځي کې نوم لیکنه وکړي. ستا دایمي اوسیدنې ځای ته په کتو د ښوونځي زون له لوري ستا سیمه ییز ښوونځی ټاکل کیږي. تاسې داسې یو ښوونځي ته هم نوم لیکنه کولای شې چې ستاسې سیمه ییز ښوونځی نه وي که په ښوونځي کې ځای وي نو دغه ښوونځی باید ستاسو د ماشوم غوښتنلیک ومني.

## د ۲۰۲۷ لپاره زه د خپل ماشوم نوم لیکنه څرنګه ترسره کړم؟

که ستاسې ماشوم د ویکټوریا ایالت په دولتي ابتدایي ښوونځي کې وي، دغه ابتدایي ښوونځی به په ۷ ټولګي کې د ځای پرځای کیدو لپاره د غوښتنلیک یوه کاپي درکړي کومه چې باید تاسې ډکه کړئ او د جمعې ورځې کال ۲۰۲۶ مې میاشتې ۸ نیټې پورې بیرته وسپارئ. دغه فورمه د ابتدایي ښوونځي نه ثانوي ته د بدلیدو پرمهال د [ثانوي ښوونځي په ویب پاڼه](#) کې هم موندلای شئ.

په خپل غوښتنلیک کې **د خوښې درې** دولتي ثانوي ښوونځیو ټاکلو اختیار لرئ.

که مو ماشوم په غیر دولتي ابتدایي ښوونځي کې وي، نوتاسو کولی شئ د نوم لیکنې پروسې په اړه د نورو مالوماتو لپاره د خپلې خوښې ثانوي ښوونځي سره اړیکه ونیسئ.

## زه په خپله سیمه کې څرنګه خپل سیمه ییز یا نور ښوونځي پیدا کړم؟

ستاسې زون اړوند سیمه ییز ښوونځی د زما ښوونځی پیدا کړه ویب پاڼې (Find my School) لټون له لارې پیدا کولای شئ.

1. په خپل براوزر کې findmyschool.vic.gov.au کې ولیکئ.
2. د پیلیدو لپاره خپل ادرس دلته ولیکه ځای کې؛ خپل اوسنی ادرس دننه کړه.
3. د نوم لیکنې کال لاندې ۲۰۲۷ انتخاب کړه.
4. د ښوونځي نمونه/ډول لاندې ثانوي او ۷ اختیار کړه.

نقشه به درته هغه سیمه ییز ښوونځي وښايي کوم چې ستاسې زون پورې اړه لري. د ښوونځي د اړیکو مالومات د نقشې کيڼ لوري خوا ته پراته/موجود دي. که لږ د صفحې لاندې لوري خوا ته لاړ شئ، نو پیښئ هغه نیږدې دولتي ښوونځي به ووینئ چې ستاسې ادرس ته لنډ دي.

## څه به وشي که زه یو کاتولیک یا خود اختیاره(خصوصي) ښوونځي کې نوم لکینه وکړم؟

که ته غواړې په یوه کاتولیک یا خود اختیاره (غیر دولتي) ښوونځي کې نوم لیکنه وکړې، نو بیا ته باید د نوم لیکنې یوه بیله پروسه تعقیب کړې. ته کولای شې په لاندیني ویب پاڼه کې نور مالومات ترلاسه کړې.

- کاتولیک ښوونځي: vcea.catholic.edu.au/choosing-a-catholic-school
- خود اختیاره ښوونځي: is.vic.edu.au/independent-schools

هغه والدین او پالونکي چې ماشومان یې اوسمهال دولتي ابتدایي ښوونځي کې په زده کړو بوخت دي باید *په اووم ټولګي کې د ځای پرځای کولو فورمه* ډکه کړي، ان تر دې که ماشوم یې غیر دولتي ښوونځي هم واېي. دغې فورمې په کارولو تاسې کولای شئ ابتدایي ښوونځي ته خبر ورکړئ چې تاسې په یوه غیر دولتي ښوونځي کې ځای ترلاسه کړی یا د اوسمهال لپاره د تصمیم منتظر یاست (د ښوونځي نوم هم ورته ووایاست). که تاسو دغه فورمه ډکه نه کړئ، ستاسو ماشوم ته به د هغوی د سیمه ییز دولتي ثانوي ښوونځي له لوري په ټولګي کې د شاملیدو وړاندیز وشي.

## ښوونځي څرنګه غوښتنلیکونو ته لومړیتوب ورکوي؟

ښوونځي باید ټولو هغو زده کوونکو ته چې د دوی زون پورې اړه لري د نوم لیکنې وړاندیز ورکړي. که خالي چوکۍ/ځایونه موجود وه، ښوونځي باید د خپل زون نه دباندې زده کوونکو ته هم د نوم لیکنې وړاندیز وکړي.

که یو ښوونځی نه شي کولای چې د ټولو هغو زده کوونکو نوم لیکنه وکړي چې د دوی د زون نه دباندې اوسیږي، نو غوښتنلیکونو ته په لاندې ډول لومړیتوب ورکول کیږي:

1. هغه ورونه خویندې چې په یوه ادرس کې سره ژوند کوي او په ورته وخت کې ښوونځي کې په زده کړو بوخت دي.
2. نور ټول زده کوونکي په ترتیب سره ښوونځي ته د نیږدیوالي پر اساس.

په نادره حالاتو کې د خواخوږۍ پر اساس هغه زده کوونکي کیدی شي د غور لاندې ونیول شي کوم چې د ښوونځي د زون نه دباندې اوسیږي.

د نوم لیکنې تصمیم د څرنګوالي په اړه د لا نورو مالوماتو لپاره، [په ښوونځي کې نوم لیکنې برخې نه لیدنه وکړئ].

## که زما په مالوماتو کې د غوښتنلیک سپارلو نه وروسته بدلون راشي څه به وشي؟

ژرترژره د خپل ماشوم ابتدایي ښوونځي سره په اړیکه کې شئ. هغوی به ستاسې د ځای پرځای کیدو غوښتنلیک کې بدلون راولي.

## ایا زه د خپلې خوښې ثانوي ښوونځي نه د وراندیز نه ترلاسه کولو حالت کې د بیاکتنې غږ (اعتراض) کولای شم؟

هو، د زده کوونکي شاملیدو غوښتنلیک د پاېلې په اړه ته کولای شې د اعتراض غږ پورته کړې. که ستاسې ماشوم په دولتي ابتدایي ښوونځي کې وي، د هغوې ابتدایي ښوونځی کولای شي تاسې ته د اړوندې ځانګې د اعتراض غږ بورته کوونې هغه فورمه درکړي کومه چې دا روښانه کوي تر څو د خپلې خوښې ثانوي ښوونځي ته د بیاکتنې غوښتنه څنګه سپارلای شئ.

که مو ماشوم په غیر دولتي ابتدایي ښوونځي کې په درسونو بوخت وي، نیغ په نیغه د ثانوي ښوونځي سره په اړیکه کې شئ. هغوې کولای شي د اعتراض (بیاکتنې غوښتنه/غږ) فورمې تر څنګ د اعتراض کولو پروسې په اړه مالومات درکړي.

## که زه د یوه غیر دولتي (کاتولیک یا خپلواکه) ابتدایي ښوونځي له خوا غوښتنلیک وسپارم؟

که ستاسو ماشوم په یوه غیردولتي ابتدایي ښوونځي کې په زده کړو بوخت وي، تاسو باید د ۷ کلنې دورې د شاملیدو فورمه ډکه کړئ او نیغ په نیغه یې د جمعې ورځ مۍ میاشتې ۸ مه کال ۲۰۲۶ د خپلې خوښې ثانوي ښوونځي ته وسپارئ.

تاسو کولی شئ د والدینو او پالونکو لپاره د شپږم کال څخه اووم کال ته د شاملېدو د مالوماتو په کڅوړه کې شامل د غوښتنلیک فورمه له [ابتدایي ښوونځي څخه ثانوي ښوونځي ته د بدلیدو] ویب پاڼې څخه راښکته کړئ.

## د اووم کال دورې د شاملیدو په اړه لا نور مالومات له کومه ځایه ترلاسه کولای شم؟

تاسې کولای شئ د اووم ټولګي د شاملیدو پروسې په اړه مالوماتي کڅوړه د [ابتدایي ښوونځي نه ثانوي ښوونځي ته د بدلیدو] ویب پاڼې نه ترلاسه کړئ. د مالوماتي کڅوړې یوه کاپي تاسو د خپل ماشوم د ابتدایي ښوونځي نه هم غوښتلای شئ.

که د مالوماتو کڅوړې ژباړې برخه کې مرستې ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ د خپل ماشوم ابتدایي ښوونځي سره خبرې وکړئ.

## زه د مرستې لپاره له چا سره اړیکه ونیسم؟

په ۷ ټولګي کې د شاملیدو د پروسې په اړه د هر ډول پوښتنو په ځوابولو کې به درسره د۶ ټولګي همغږی کوونکی، د لیږد یا بدلیدا همغږی کوونکی، د ابتدایي ښوونځي مدیر مرسته وکړي.

### 1 ګټور لینکونه

زما ښوونځی راپیدا کړه – findmyschool.vic.gov.au

د ښوونځي زونونه – vic.gov.au/school-zones

په ښوونځي کې شاملیدل – vic.gov.au/how-choose-school-and-enrol

ثانوي ښوونځي ته تګ – vic.gov.au/moving-primary-secondary-school-information-parents-and-carers

معلولیت او ټولشموله روزنه – vic.gov.au/disability-and-inclusive-education

سیمه ییزې دفترې اړیکې – vic.gov.au/office-locations-department-education-and-training

### عمومي پوښتنې

بریښنالیک: enquiries@education.vic.gov.au

ټیلیفون: 1800 338 663

# په ۲۰۲۷ کې د ۷ کال ځای پرځای کېدو مهالویش
# (ټاکل شوی وخت)

| د ۲۰۲۵ کال نېټې | والدین/پالونکي باید څه وکړي؟ |
|---|---|
| | ۱ دوره: شه شنبه ۲۷ جنوري ۲۰۲۶ (زده کوونکي په ۲۸ جنوري پیلوي) - پنجشنبه ۲ اپریل ۲۰۲۶ |
| **د ۱ دورې، ۲۰۲۶** | • د ثانوي ښوونځي له خوا **ترتیب شویو لیدنو کې ګډون وکړئ** (خپل اختیاره) |
| **تر پنجشنبه ۲ د اپریل ۲۰۲۶** | • د کال ۲۰۲۷ د ښوونځیو زونونه اوس د ترلاسه کولو لپاره موجود دي. تاسې **خپل سیمه ییز ښوونځی** په [www.findmyschool.vic.gov.au](http://www.findmyschool.vic.gov.au) کې پیدا کولای شئ. |
| | **2 دوره: دوشنبه ۲۰ اپریل ۲۰۲۶ - جمعه ۲۶ جون ۲۰۲۶** |
| **د دوشنبې ۲۰ اپریل ۲۰۲۶ نه** | • د ۲ دورې د پیل نه به، د ۶ ټولګي زده کوونکو کورنیو ته د ابتدایي ښوونځیو له لوري د ۶ ټولګي نه تر ۷ ټولګي په ښوونځي کې د شاملیدو مالوماتي کڅوړې ورکول شي. په دغه کڅوړه کې د ۷ کال په ښوونځي کې د شاملیدو غوښتنلیک موجود دی.<br>• **تاسو کولای شئ** د لا نورو مالوماتو په خاطر **د ابتدایي ښوونځي نه ثانوي ښوونځي د بدلیدو ویب پاڼې نه** [په ښوونځي کې د شاملیدو مالوماتي کڅوړه](#) **راښکته کړئ.** |
| **د جمعې په ۸ می ۲۰۲۶** | • **د ۷ کال شاملیدو غوښتنلیک د خپل ماشوم ابتدایي ښوونځي ته وسپارئ.**<br>• که ستاسې ماشوم اوسمهال په کور کې زده کړې کوي یا په یوه غیردولتي ابتدایي ښوونځي کې دی، غوښتنلیک یې نیغ په نیغه د خپل خوښې دولتي ثانوي ښوونځي ته وسپارئ. |
| **چهار شنبه ۲۴ ۲۰۲۶** | • په دغه نېټه **به ثانوي ښوونځي په لیکلي بڼه ستاسو د شاملیدو په اړه خبر درکړي.** |
| | **۳ دوره: دوشنبه ۱۳ جولای ۲۰۲۶ - جمعه ۱۸ سپتمبر ۲۰۲۶** |
| **جمعه ۱۷ جولای ۲۰۲۶** | • که تاسو د اعتراض غوښتنه لرئ، په دغه نیټه د خپل خوښې ثانوي ښوونځي ته په لیکل شوي بڼه خپله غوښتنه وسپارئ. |
| **په سه شنبه ۴ اګست ۲۰۲۶** | • ثانوي ښوونځي به په لیکل شوي بڼه ستاسې د اعتراض د غوښتنې پایلې په اړه خبر درکړي. |
| **په سه شنبه ۱۱ اګست** | • **په ۷ کلنۍ دوره** کې د شاملیدو د قبولۍ پاڼې په ډکولو او د خپل ماشوم ابتدایي ښوونځي ته یې د سپارلو پواسطه قبولي تایید کړئ. |
| **په سه شنبه ۱۸ اګست ۲۰۲۶** | • که مو د خوښې ښوونځي پر وړاندې د اعتراض غږ پورته کوونې غوښتنه ناکامه شوې وي، تاسو کولی شئ اړوند سیمه ییز رییس ته په لیکلې بڼه یو اعتراض/ اپیل وړاندې کړئ. |
| | ۴ دوره: دوشنبه ۵ اکتوبر ۲۰۲۶ - حمعه ۱۸ ډیسمبر ۲۰۲۶ |
| **په جمعه ۱۶ اکتوبر ۲۰۲۶** | • که تاسو سیمه ییز ریاست ته د اعتراض غوښتنه کړې وي، همغه ځانګه به په لیکل شوي بڼه په دغه نیټه خبر درکړي. دغه یوازې په هغو غوښتنو د پلي کیدو وړ دی چې د سه شنبې ورځې ۱۸ اګست ۲۰۲۶ تر پایه ترلاسه شوې وي. |
| **سه شنبه ۸ ډیسمبر ۲۰۲۶** | • د ۶ کال زده کوونکو لپاره ثانوي ښوونځي د **لارښوونې** کوربه توب کوي. |